له پېغمبر صلى الله عليه وسلم سره مې لمونځ وکړ، هغه به ښي لور ته «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ»، او کېنۍ لور ته : «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ» داسې سلام ګرځاوه

له وائل بن حجر رضي الله عنه څخه روايت دي وايي چې: له پېغمبر صلى الله عليه وسلم سره مې لمونځ وکړ، هغه به ښي لور ته «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ»، او کېنۍ لور ته : «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ» داسې سلام ګرځاوه.

[حسن] [ابو داود روايت کړی دی]

کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم غوښتل له لمانځه څخه ووځي نو ښي او کېنۍ لور ته به يې داسې سلام ګرځاوه چې: لومړی به يې د (السلام عليكم ورحمة الله وبركاته) په ويلو سره ښي لور ته او د (السلام عليكم ورحمة الله) په ويلو سره کېنۍ لور ته سلام ګرځاوه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10945